


## له ښاغلي (استاد پوهاند ډوکتور اجمل ښکلي) سره د سمبولیسم د ښوونځی په تړاو مرکه

## مرکوال: انجنیر عبدالقادر مسعود

ادبي مکتبونه د هغو خوځښتونو، نورمونو، لیدتوګو او نظریاتو، تیوریو او ځانګړتیاوو ټولګه ده چې د یو یا ډیرو هیوادونو په ادبیاتو کې د فرهنګي، ټولنیزو، سیاسي او تاریخي لاملونو له امله په یوې ټاکلې موده کې راڅرګند شوې دي.

هر ښوونځی ځانته اصول او ځانګړنې لري. دا ځانګړتیاوې معمولن د لیکوالو، هنرمندانو، ادیبانو او شاعرانو د یوې ډلې په کارونو کې عام دي او د دوی نښیرونه(اثار) د نورو لیکوالو، هنرمندانو او شاعرانو له نښیرونو(اثارو) څخه توپیر لري.

د هر ادبي مکتب ځانګړتیاوې په تدریجي ډول د هغه ښوونځي اړوند ادبي نښیرونو (اثارو) کې څرګندیږي. ټولنیز، سیاسي، اقتصادي یا کلتوري شرایط د ادبي مکتبونو په رامینځته کولو یا بدلون کې د نه منلو وړ اغیز لري. په بشپړ ډول بېلابېل ښوونځي نږدې په ورته وخت کې سره راټول شوي او د یو بل تر څنګ یې وده کړې ده.

په ټوله کې، نړیوال ادبي مکتبونه په هر وخت کې د ادب، هنر او ګډ ژوند د فلسفي لید توګو او نظریاتو پر بنسټ رامینځته شوي. که څه هم د هر مکتب ښکاره کېدنه په هر پېر او دوره کې د ټولنیز، سیاسي، ادبي، فرهنګي او زیاتره فلسفي فکر پایله ده، خو کله کله داسې هم شوي چې په یوه هېواد کې په یو وخت کې بېلابېل مکتبونه راڅرګند شوي او له یو بل سره څنګ په څنګ یې وده کړې او له ټولو توپیرونو سره سره هر یو خپل پلویان موندلي دي.

لنډه دا چې په پښتو ژبه کې د نړیوالو ادبي مکتبونو او ښوونځیو بنسټیزې قاعدې، آرونه، اصلي موضوع او اصول، او د هر مکتب عقایدو، موخو، اندونو او افکارو، لیدتوګو، شهکارونو، مهمو او ګټورو ادبي او هنري نښیرونو(اثارو) ته پوره او د پام وړ کار او په هر اړخیز توګه بشپړه پاملرنه نه ده شوې. همدا وجه ده، چې ما له ځان سره اندو فکر وکړ، زه باید د علم، ادب او فرهنګ له پېژندل شویو څېرو سره د دغو مکتبونو په تړاو بشپړې او هر اړخیزې مرکې جوړې کړم تر څو د نړیوال ادبي مکتبونو مینه وال او لوستونکي وکولی شي په جلا توګه د دغو نړیوالو ادبي مکتبونو

له منځپانګې، پیغامونو او موضوعاتو څخه ارزښتمنه او اغېزناکه ګټه پورته کړي. یو له دغو علمي او ادبي څېړو څخه، چې ما ورسره د سمبولیسم مکتب په تړاو مرکه جوړه کړې ده، استاد پوهاند ډوکټور اجمل ښکلی دی. نوموړی د پښتو ادب په ډګر کې ژبپوه، څېړونکی، ټولنیز او ادبي کره کتونکی، تکړه شاعر، ځوان، تاند او هڅاند لیکوال دی.

ښاغلی عبدالهادي هادي د ادب او فرهنګ په ډګر کې پېژندل شوی نوښتګر او مخکښ شاعر او تکړه لیکوال دی، چې د ده غزلیزه شاعري زموږ د هېواد په معاصرو شاعرانو کې څرګنده او روښانه بېلګه ده. د هادي صاحب په شاعرۍ کې د مینې او احساس پیغامونه او سپېڅلی رنګ، د ټولنیز ژوند عیني او رښتیني اړخونه په ډېر عالي او ظریفانه بڼه انځور شوې دي. دی په خپله بوه لیکنه کې د استاد پوهاند ډوکټور اجمل ښکلي په تړاو داسې وایي:

((پوهاند ډاکتر اجمل ښکلی د افغانستان له هغو ځوانو اکاډیمیکو څېړو څخه دی چې په لږ عمر او کم وخت کې یې پښتو ژبې او ادبیاتو ته ډېر څه ورکړیدي. پوهاند دکتور پي ایچ ډي ښکلی، په ډېرکارو لیکوالو کې هغه نوم دی چې هم یې تحقیق ته اوږه ورکړې، هم یې تخلیق ته او په دواړو برخو کې د خپلو سیالو لیکوالو د کتار په سر سر کې روان دی، د هغه شعرونه او تخلیقات د پښتو د معاصر شعر داسې یو څپرکی دی چې که څوک پر پښتو شعر کار کوي نو له دې رنګین او ښایستوکي څپرکي په څنګ نه شي تیرېدای.

په ادبپوهنه کې د ښکلي صیب هڅې بېسارې دي او په ادبي څېړنو کې دی هغو افقونو ته ځیر دی او هغو برخو ته یې پام ور اړولی چې یا تر اوسه څوک نه دي پرې غږېدلي، او یا کم کار پرې شویدی. د پوهاند صیب ښکلي بل کمال دا دی چې خدای تعالی خوږ قلم او زړه راښکونکې ژبه ورکړېده، عموما په علمي او څېړنیزو

لیکنو کې لیکوال د نثر هغه خوږلت نه شي ساتلی کوم چې په ادبي لیکنو(تخلیقاتو) کې یې ګورو خو د ښکلي صیب، څېړنیزو او پوهنیزو لیکنو کې هم نثر دومره خوږ وي چې لوستونکی یې په نیمایي کې نه شي پرېښودای.

د پوهاند ښکلي نسل د تجدد، تحول او نوښتونو هغه نسل دی چې  په ډېرو بدو او تاوجنو کلونو او وختونو کې یې پښتو تخلیق او تحقیق دواړو ته ساه ورکړه او پرې یې نه ښوده چې د اوښتون په دې مهم پړاو کې د پښتو برخه خواره وي.))

استاد پوهاند دوکتور اجمل ښکلی د «ننګرهار» د «کامې» د «بازیدخېلو» اوسېدونکی دی. د پلار نوم یې حسام الدین دی. دی پر (۱۳۶۲)لمریز کال کې د کامې په بازیدخېلو کې زېږېدلی دی. ده خپلې لومړنۍ زده کړې په پېښور، منځنۍ زده کړې په ننګرهار او لوړې زده کړې یې په کابل کې سر ته رسولې دي. اوسمهال دی د کابل پوهنتون د پښتو ژبې په برخه کې استاد دی. ده د خپل ژوند په اوږدو کې چې لا هم ځوان دی، تر اوسه پورې یې کابو د (شلو) شاوخوا نښیرونه (اثار) خپاره شوې دي، چې د ژباړې، ژبپوهنې، د شعر و شاعرۍ، ادبیاتو او نورو ټولنیزو موضوعاتو  نښیرونه(اثار) پکې شامل دي.

همداسې ښاغلی علم ګل سحر، چې د علم، شعر او ادب په ډګر کې پیاوړی لیکوال، مخکښ او هڅاند شاعر او تکړه کیسه لیکونکی دی. دی په خپله یوه لیکنه کې د استاد پوهاند دوکتور اجمل ښکلي په تړاو داسې وایي:

((څو کاله د مخه په کابل کې د طنز په اړه سمینار و، د تدارک کمیسیون یې زما او څو نورو مشهورو لیکوالو نومونه د وینا والو په لست کې نیولي وو، راته ویې ویل چې د طنز په اړه یوه مقاله ولیکه. ما ورته وویل دا زه او څو نور چې په هره غونډه کې بر بر کیږو او وېناوې کوو تر دې به دا ښه وي چې زموږ پر ځای ځوانو لیکوالو

ته وخت ورکړئ، ان شاالله تر موږ به ښې او نوې ليکنې وړاندې کړي. د ځوان ليکوال اجمل ښکلي او څو تنو نورو ځوانو ليکوالو نومونه مې ور کړل، هغوی هم په نه زړه ومنل. د سيمينار په ورځ ښکلي صاحب چې هغه وخت د کابل پوهنتون محصل و، د طنز په اړه داسې ښکلې او علمي مقاله واوروله چې زما غوندې ليکوال يې ممکن اوس هم په ليکلو بريالي نه شي.

ډاکتر اجمل ښکلی مبتکر شاعر، ليکوال، ژبپوه او ښه کره کتوونکی دی. ښکلي لږه شاعري يې کړې خو ښکلې شاعري يې کړې ده. د ادب، کلتور، ټولنپيژندنې او ژبنيو مسايلو په اړه په زړه پورې څېړنې او ليکنې کوي که خپلو مطالعاتو او څېړنو ته همداسې دوام ورکړي زموږ ژبې او ادب ته به لا ډېر څه ورکړي.))

ښاغلی استاد اجمل ښکلی هغه ځوان هڅاند ليکوال، اديب، ژبپوه، پياوړی کره کتونکی، پنځگر او څېړونکی دی، چې د لوړ فکر، ځواکمن استعداد خاوند شخصيت دی. د ده له څېړنېزو او تحقيقاتي علمي، ادبي او ټولنيز نښيرونو(اثارو)، او د پښتو ژبې، ادب، شعر و شاعرۍ په برخه کې  د ده له پنځونو، کره کتنو او څېړنو څخه ځرگندېږي، چې تل يې هڅه کړېده خپلې څېړنيزې ليکنې او تحقيقاتي موضاعات او مسايل د ژورې پوهې او د کره کتنو او څېړنو د هر اړخيزو اصولو او مقرراتو، د ځرگندو دلايلو او مستندو شواهدو او موادو پر منطق خپلو لوستونکو او مينه والو ته وړاندې کړي.

استاد پوهاند دوکتور اجمل ښکلی هغه دروند، زړه سواندی، متواضع، خواخوږی، پاک او سپېڅلی شخصيت دی، چې په ملگرتيا او ټولنيز ژوند کې له خپلو ملگرو، دوستانو او يارانو سره ژوره مينه او اخلاص لري.

ښاغلی نذیر سهار هغه منلی لیکوال، رسنوال او شاعر دی، چې د ژورنالیستیکي هلوځلو تر څنګ د خبریالۍ په ډګر کې یې بېلابېل ارزښتناک او ګټور کتابونه لیکلي دي. د پښتو ادب، شعر و شاعرۍ په غوړېدا او ښېرازۍ کې یې اغېزناکه ونډه اخیستې ده. ده په خپله یوه لیکنه کې د استاد اجمل ښکلي په اړوند داسې کښلې دي:

((اجمل ښکلی د پښتو کره کتنې، تحقیق، تخلیق او ژبپوهنې په برخه کې په ځوان نسل کې داسې څوک دی، چې د ناویلو د سپړلو ظرفیت لري. د هغه د بحث موضوعات، د څېړنې تګلار او د کره کتنې په برخه کې ځانګړي اسلوب، دی له نورو یو څه جلا کوي.

ښکلی هڅه کوي چې د ادبیاتو د تحلیل لپاره یوازې هنري او روایتي تګلارې نه، بلکې ساینسي او منطقي تګلارې هم وکاروي. نن موږ مصنوعي ځیرکتیا او ډیجیټل ادبیات لرو او زموږ ژبه او ادبیات ترې بې اغیزې نه شي پاتې کېدای. پخوا د ادبیاتو او هنر یو ډول تعریف کېده، خو نن نړیوالتوب او ټکنالوژیکو بدلونونو ډېر تعریفونه بدل کړي دي. پخوا هنر د انسانانو ترمنځ د اړیکو یوه مهمه لاره ګڼل کېده، لیکوال او هنرمند بېل تعریف درلود، خو اوس د ټکنالوژۍ په پرمختګ سره دا تعریفونه خپله بڼه تغییروي، ژباړې اتومات کیږي، مصنوعي ځیرکتیا شعر او لیکنې کوي، انځورګري او ګرافیکي چارې کوي، انلاین پلټونکي ماشینونه ډیجیټل کتابتونې پلټنې کوي، چې زماني واټن یې ثانیو ته راکم کړی، نو دا وضعیت او تغییر موږ له نومهالو غوښتنو سره همغږۍ او همګامه توب ته هڅوي او دې مسایلو ته د اجمل ښکلي په څېر ځوانې ادبي څېرې ځیرې دي.

د ښکلي د کره کتنې یو هدف دا دی، چې د لیکوال او لوستونکي ترمنځ په اړتیا متکي اړیکې په ښه کړي، د موضوع اوسمهالې اړتیا و ارزوي. دا باید زموږ د

نومهالې کره کتنې بنسټ وي، ځکه په اوسنۍ ساينسي او ټکنالوژيکه نړۍ کې چې هرڅه د تغيير او بدلون په حالت کې دي، زموږ ادب، ژبه، ژبنۍ اړتياوې، د بحثونو نوعيت او د پيغام د انتقال لارې، د مخاطبانو ډول، څرنګتيا او سليقې د تغيير غوښتنه کوي. اجمل ښکلی دې مسالې ته ځير دی او په خپلو ليکنو او څېړنو کې د دوديزو او نويو لارو يو ترکيب رامنځته کوي.

هممهاله له څو ژبو سره د هغه اشنايي هم د دې لامل ګرځېدلی، چې نړيوال او سيمه ييز ادب له نږدې ولولي.

په تېرو څه باندې دوو لسيزو کې چې زه ښکلی تعقيبوم هرځل د هغه له خولې او قلم نه نوي څه اورم او لولم، په ځانګړې توګه پر داسې موضوعاتو چې په پښتو ادب او ژبه کې پرې ښايي ډېر تمرکز او کار نه وي شوی. د موضوع په انتخاب کې هغه ځانګړې وړتيا لري او ډېری بکر او ناسپړلي موضوعات را سپړي. د ليکوالۍ سټايل يې داسې دی چې لوستونکی له ځان سره تر پايه بيايي او اصلي موضوع ترې نه ورکيږي. نه اضافه غږيږي او نه مخاطب او لوستونکی بې ځوابه پرېږدي.

اجمل ښکلی د رياليزم، کره کتنې، ژبپوهنې، ټولنيزو ذهنيتونو، فرهنګي تحول او ادبي تيوريو په اړه ګڼې ليکنې کړې دي، ګڼ کتابونه يې خپاره شوي. رياليزم، د ادبي کره کتنې محورونه، مانا لومړۍ ده که ګرامر؟، غير رسمي ژبه، ګواهي محوره پوهه، ادراکي ژبپوهنه، زموږ د کره کتنې ستونزې، فرهنګي تحول او موږ، د ژبې له څلور ګوټيز سره د ادب چلن، د ليکوالۍ بهرني شرايط، د نثر و شعر تخيل، کره کتنه او تاريخ، د شاعرۍ راوي او روايي شاعري  په ليکنو کې د ښاغلي ښکلي موضوعي تنوع او پراخ ادبي ليد راښيي. د ده فکري تنده يوازې يو مشخص اړخ نه راسپړي، بلکې د مختلفو ژبنيو، ټولنيزو او فلسفي مسايلو شنلو ته هم ځير دی.

د پښتو ژبپوهنې او کره کتنې په برخه کې د ښکلي کار په ځوان نسل کې د پاموړ او غالب دی.))

ګرانو دوستانو او مینه والو موږ به په دې مرکه کې له ښاغلي استاد اجمل ښکلي سره د یو لړ پوښتنو ابنتنو له لارې داسې څه تر لاسه کړو، چې په ځانګړې ډول د ځوان ادبي او فرهنګي پښت لپاره به هم ګټور وي او هم په زړه پورې.

ګران استاد پوهاند ډوکتور اجمل ښکلی صاحب زما نیکې هیلې او پېرزوینې ومنئ. اجازه راکړئ چې خپلې پوښتنې پیل کړم.

ګران مسعود صاحب زه خپل سلامونه او پېرزوینې تاسې او ټولو مینه والو ته وړاندې کوم او ستاسو په خدمت کې یم.

***

**مسعود:** تاسو ادب څنګه راپېژنئ؟ د نړۍ د اغېزمنو او ارزښت لرونکو پېژندل شوو پخوانیو ادبي ښنیرونو(اثارو) او پېژاندو لیکوالو په اړه یې څه اند لرئ؟

**استاد ښکلی:** ادب ژبنی هنر دی، چې له ژبنیو ښنو نه ادبي متن رامنځته کېږي، چې عاطفي، تخیلي او فکري بنسټ لري.

پخواني زموږ د ادب ځلي دي. په خپل وخت کې یې هڅه کړې ده، چې پښتو ادبیات ته کار وکړي. کار یې مثبت اړخونه هم لري او منفي هم؛ خو مهمه دا ده، چې کار یې کړی او ښه کار یې کړی دی.

**مسعود:** ستاسو په اند کوم ډول ښنیرونه(اثار) د ادبي ښنیرونو(اثارو) او ادبیاتو په توګه وپشل کېدای شي؟ او دا راته ووایاست څه وخت لیکوال او شاعر یو ادبي ښنیر (اثر) پنځولای شي؟

**استاد ښکلی:** هغه ادبي آثار چې هنري تومنه لري. مطلب دا چې جوړښت یې پر تخیل، عاطفه او فکر ولاړ وي او له عادي ژبې ناعادي شوی وي، چې دا آثار د جوړښت او محتوا له پلوه په ګڼو ډولونو یا ژانرونو وېشل کېږي، لکه نثر و نظم یا غنایي، حماسي او نور.

**مسعود:** وایي چې د ادب توکي عبارت دي له: خیال، احساس، اندېښنه، مینه او ټکر یا "تضاد" څخه، تاسو په دې اړه څنګه اندئ؟

**استاد ښکلی:** هو، اندېښنه او مینه هم په احساس یا په لږه پراخه مانا په عاطفه کې راځي. ممکن له ټکره مو مراد شکلي یا مانیز ټکر وي؛ خو زه به ستاسو پر خبرو یو څو خبرې ورزیاتې کړم، چې خیال، عاطفي، فکر او موسیقي د ادب رغنده توکي دي؛ خو دا توکي په هر ادبي متن کې د کمیت له پلوه یو ډول نه وي. په ځینو کې یو غالب او بل کم وي. په فکر شاعرۍ کې د فکر لاس بر وي؛ خو ممکن تخیل او عاطفه پکې څه نا څه تته وي.

**مسعود:** ستاسو په اند، د ادبیاتو د موخو او دندو، همداراز د ژمنو او نا ژمنو ادبیاتو او د ادبیاتو د نورو اړخونو په اړه که لږ څه رڼاوی ورکړئ؟

**استاد ښکلی:** د ادبیاتو موخه د لوستونکي د ذوق خړوبول او فکر ورکول دي. په بله وینا، ټولنیزو واقعیتونو ته متوجه کول دي. ژمن او ناژمن ادبیات د شلمې پېړۍ د لومړۍ نیمايي تولید دی. هغه وخت چې سوسیالیستي ایډیالوژۍ د ادبیاتو پر التزام ټینګار کاوه او ناسوسیالسیتي ریالیستي ادبیات یې بورژوایي ادبیات بلل. اوسمهال موږ یوازې ادبیات لرو، ژمن او ناژمن پکې مطرح نه دي.

**مسعود:** د ادبیاتو د وېش، د ژبې او ادبیاتو د اړیکو په اړه څه لید لرئ؟

**استاد ښکلی:** هره ښکارنده علم د درک په موخه د تحلیلي مېتود له مخې وېشي. ادبیات هم د بېلابېلو معیارونو پر بنسټ بېلابېل ډولونه لري.

د ژبې او ادب د اړیکې په اړه باید ووایم، چې ادبیات په ژبه کې هستېږي او دواړه سره ناشلېدونې اړیکه لري. ادبیات د کلمو مانا پراخوي.

**مسعود:** ژان پل سارتر(۱۹۸۰-۱۹۰۵) چې د شلمې پېړۍ له مخکښو پنځونکو، مخورو او مهمو فیلسوفانو او اندیزو څخه وو، دغه تکړه لیکوال د خپلو نوموتو نښیرونو (اثارو) تر څنګ د (ادب څه شی دی؟) په نوم یو نښیر (اثر) هم کښلی دی او دا کتاب د لمړي ځل لپاره پر(۱۹۴۸)زېږدیز کال کې خپور شو. ستاسو په اند سارتر د ادب او ادبیاتو د ارزښت، ژمنتیا او پازوالي(مسوولیت) په اړه څه لید درلود.

**استاد ښکلی:** د سارتر لیدلوری د خپل وخت او خپل تفکر زېږنده دی. نوموړي هڅه کړې، چې د سوسیالیستي او ناسوسیالستي لیدلوري ترمنځ یوه همغږي رامنځته کړې؛ نو له نثر نه د ژمنتیا او له شعر نه د ښکلا هیله لري.

**مسعود:** د تمدن، فرهنګ، هنر او کلتور د وییو(اصطلاحاتو) د پېژندلو(تعریفولو) په اړه څه ډول اندئ؟ ادبي ټوټې، ځېلونه (ژانرونه) څنګه ارزوئ؟

**استاد ښکلی:** تمدن، فرهنګ او هنر نومونې مختلفې دي. تمدن د انسان د مادي او معنوي تحول زېږنده دی او دا تحول د ټولو علومو په برکت رامنځته شوی. فرهنګ د یو ټولنې د وګړیو د ژوند تېرولو او د ژوند په اړه د فکر کولو لاره او روش دی. هنر له فرهنګ سره ژوره اړیکه لري. هنر تمدن پیاوړی کوي او برعکس مدنیت د هنر ایجاد ته لار جوړوي.

**اوس به راشو د سمبولیسم مکتب ته:**

**مسعود:** تاسو سېمبول، چې په نړیوالو شهکارونو او لویو شعري اثارو کې خپل ځانګړی ځای لري او سیمبولیک ننښیرونه (اثار) په تېره بیا په ژبه، ادب او شعر کې څنګه راپېژنئ (تعریفوئ)؟

**استاد ښکلی:** د سېمبول نومونه یوه عامه نومونه ده، چې په ګڼو علمي حوزو کې د ننښې په مانا کارېږي؛ خو په ادبیات کې له تشبیه او استعارې سره په توپیر هغه ننښه چې ګڼ مدلولونه ولري، سېمبول ګڼل کېږي؛ نو کوم ادبي اثر چې ګڼ سېمبولونه ولري یا سېبمولیکه فضا ولري، سېمبولیک اثر ګڼل کېږي.

**مسعود:** تاسو د سمبولیسم ښوونځی، چې یو ادبي او هنري مکتب دی څنګه راپېژنئ او ارزوئ، کوم چې د (۱۹)مې پیړۍ په پای او د (۲۰)مې پیړۍ په پیل کې په اروپا او امریکا کې مشهور شو. مهرباني وکړئ د دې مکتب د تاریخ، آر او بنسټ په اړه لنډ مالومات راکړئ، چیرته، کله او د چا لخوا جوړ شو او لومړني بنسټ ایښودونکي یې څوک ول؟

**استاد ښکلی:** د سېمبولیزم ادبي مکتب د نولسمې پېړۍ په دویمه نیمایي کې په فرانسه کې راوټوکېده او هلته شارل بودلیر او میلارمه په آثارو کې د مکتب په توګه رامنځته شو. که څه هم د سېمبولونو کارونه د بشر په لرغوني تاریخ کې ریښه لري او زموږ عرفاني ادبیات په اصل کې پر سېمبولونو ولاړ دي؛ خو د نولسمې پېړۍ د غربي سېمبولیزم او زموږ د عرفاني سېمبولیزم ترمنځ بلها توپیرونه دي.

**مسعود:** «اناتول فرانس» چې فرانسوی لیکوال، شاعر، کره کتونکی او منتقد دی وایي: چې سمبولیسم «نه د څه شي توصیف کوي او نه د څه شي نوم اخلي». او همداسې د ځینو لیکوالو په ګروهه سمبولیزم یو ادبي خوځښت دی، چې نه توضیح

کېدونکی، توضېح کوي. تاسو د اناتول فرانس او نورو لیکوالو د خبرو په تړاو څه لید لرئ؟

**استاد ښکلی:** سېمبول داسې یوه نښه ده، چې دال او مدلول سره پیوستوي؛ نو د یوه څه نوم نه اخلي، بلکې له نورو نښو په مټ لوستونکی یوې مانا ته رسوي؛ نو د اناتول فرانس خبره د سېمبولیزم په اړه دقیقه ده.

**مسعود:** تاسو د سمبولیسم د ښوونځی بنسټیزې قاعدې، آرونه، اصلي موضوع او اصول، او د سمبولیستانو عقاید، موخې، اندې، لیدتوګي او مهمې ځانګړتیاوې څه ډول ارزوئ؟

**استاد ښکلی:** سېمبولیستانو د ریالیستي ادبیاتو په اړه فکر کاوه، چې دوی د یوه ځیز نوم اخلي او په دې ډول هنر په متن کې ختم شي. د دوی په اند، هنر دا دی، چې مستقیم څه یاد نه کړو، بلکې په پردو کې یې ونغاړو، ځکه د انسان رواني لاشعوري غوښتنې چې خپرې ورې وي، په مستقیم ډول نه وړاندې کېږي؛ نو سېمبولونو ته اړتیا ده او له همدې امله سېمبولیستانو سېمبولونو ته مخه کړه.

**مسعود:** ویل شوې دي: د سمبولیزم مخکښان، «شارل بودلر، فرانسوي لیکوال او شاعر»، «ستفان مالارمه، فرانسوي شاعر، ښوونکی، کره کتونکی او منتقد» او «پل ورلن، فرانسوي لیکوال او شاعر» ول. بودلر د سمبولیزم د ښوونځي بنسټ اېښودونکی او یو له مخکښو لیکوالو او ادیبانو څخه وو، مالارمه شعر ته سمبولیک او رمزي بڼه ورکړه او ورلن د شعر عنعنوي قیود مات کړل. مهرباني وکړئ د دې لیکوالو د اند و واند او عقایدو او نامتو اثارو په اړه لنډه رڼا واچوئ.

**استاد ښکلی:** په فرانسه کې د سمبولیزم د مکتب دوه نومیالي شاعران تېر شوي، چې یو بودلیر او بل مالارمی دی. بودلیر پر ۱۸۲۱ز په پاریس کې پیدا شو او پر

(۱۸٦۷)ز کې هملته ومړ. دی د فرانسې په لویو شاعرانو کې راځي. په(۱۸٤۰)ز کې د حقوقو محصل و او په همدې وخت کې په افیومو راواووښت او د سفلس په ناروغۍ اخته او په ځوانۍ کې ومړ. د پیسو په کار کې یې لاس ډېر خلاص و، ډېر فیشني و، پاکې جامې یې خوښېدې، کور یې له سامانه ډک و. له یوې فرانسوي مېرمنې سره یې یوه ادبي ټولنه جوړه کړه او په همدې وخت کې یې Black Venus(توره زهره) نامه د شعرونو ټولگه چاپ شوه. بیا یې د The Flower of evil(د شرارت گل) په نامه ټولکه راووته. بودلیر د خپلو ژوند پېښو په ادغام یو ناول هم لیکلی. پر دې سربېره یې د ادگار الن پوه د لیکنو ژباړې وکړې او نقد یې پرې ولیکه. وایي، چې دا ژباړې په فرانسوي کې د کلاسیک رتبه لري.

پر(۱۸۵۲)ز بودلیر اپولوني سره مخ شو او بیا White Venus(سپینه زهره)یې ولیکله. بله ټولگه یې د Greeneyed Vnus(شنه زهره) په نامه ده.

بودلیر د خپلې شاعرۍ له امله یو ځل زندان ته هم لاړ او داسې یې خپله بې قدري احساس کړه. د بودلیر آثار د ده په ژوند څه چاپ نه شول او چې کوم چاپ شول، هغه چا دومره ونه لوستل؛ خو وروسته یې چې خلکو اثار ولوستل؛ نو پوه شول، چې بودلیر د ناویلو احساساتو څومره لوی شاعر دی. بودلیر د سمبولیستانو په سرخیلو کې راځي. دلته یې د یوه نظم پښتو ژباړه وړاندې کېږي:

فطرت جومات غوندې دی

چې په مبهمه خوله خبرې کوي

او په الفاظو کې یې

د سمبولونو یو ځنگل جوړ دی

چې څوک تېرېږي له دې

نو سمبولونه ورته

په اشنا سترگو گوري

له یوه لرې ځای راځي ازانگه

او په سپین سترگو تاریکو کې ورکه

د ورځې سپین او د شپې ځلنده مخ

خوشبویی، رنگ او څېره یو بل سره

په مجلسونو، په خبرو کې ورک

دا خوشبویی د ماشومانو د پوستکي غوندې

تازه، نازکه، پستې

او له شپېلۍ د راوتونکي اواز

په څېر له خوند، له ترنمه ډکې

د چمنونو غوندې شنې لگېږي

او له دې بل پلوه

تور عملونه، امیران بریالي

خواره واره بې شمېره ډېر شیان

لکه عنبر، مښک او مرهم چې وي یوځای پراته

حواس او روح مې له خوند ډکې نغمې

وایي داسې

**مسعود:** ویل شوي دي: د سمبولیسم ادبي او هنري خوځښت د (۱۸۸۰) زېږدیز کلونو په شاوخوا کې د لومړي ځل لپاره په فرانسه کې منځ ته راغی، چې نوموتي استازي يې «ورلن»، «رمبو»، «مالارمه» او موري آدي ول. خو د ځينو په ګروهه «بودلر» او «ادګارالن پو» د سمبولیسم مخکښان دي. مهرباني وکړئ د دې ليکوالو، اديبانو او شاعرانو د اند و واند او عقايدو او نامتو اثارو په تړاو لنډ مالومات راکړئ.

**استاد ښکلی:** د بودلير په اړه مو پاس خبرې وکړې، ادګار الن پو په اصل کې د نولسمې پېړۍ د لومړۍ نيمايي شاعر او ليکوال او کره کتونکی دی، چې له رومانتسيزم سره يې ژوره اړيکه درلوده؛ خو د سېمبولونو له کارونې سره يې هم لېوالتيا وه، چې په آثارو کې يې دا سېمبوليکه ځانګړنه ښکاري او له همدې امله ځيني ادبپوهان فکر کوي، چې د سېمبوليستانو پر شاعرۍ د الن پوه ژور اغېز و.

**مسعود:** ستاسو په اند د سيمبوليکو اشعارو موخه او دنده څه ده؟ ویل کېږي: په فرانسه کې لومړي ازاد شعرونه پرته له دې چې د «والټ ویټمن ۱۸۱۹- ۱۸۹۲» امريکايي شاعر د شعرونو په اړه پوه شي د شاعرانو له خوا رامينځته شوي. لومړی ازاد شعر په (۱۸۸٦م) زېږديز کال کې د «ارتور رمبو» لخوا ليکل شوی وُ.

ورپسې نورو شاعرانو هم آزاد شعرونه وليکل. د آرتور او نورو شاعرانو د آزاد شعر د ليکلو موخه څه وه او دوی ازاد شعر له عروضي شعر سره څه ډول پرتله کوو؟

**استاد ښکلی:** په اصل کې د سېمبوليستانو ادعا دا وه، چې څرنګه شاعري له محدودو قالبونو، وزنونو او وييزېرمې ازاده کړي. ازادي د سېمبولېزم د مکتب يو شعار و، چې په هر ډګر کې يې پلی کړی و، له قافيې او وزنه ازادي او يوازې د داخلي موسيقۍ په مټ شاعري د دوی په ګڼو ټولګو کې ليدلای شو.

له عروضي شعره زموږ مراد تر ډېره په عربي وزنونو ليکل شوي نظمونه وي؛ نو په غربي ژبو لکه فرانسوي او انګليسي او نورو کې چې ژبې مختلفې وې، د وزن سيستمونه يې هم سيلابيک او تونيک وو، ځکه نو دا ممکنه وه، چې له دې وزنونو ازادي واخيستل شي او د ژورو کيفيتونو د وړاندې کولو لپاره يوازې له داخلي موسيقۍ کار واخيستل شي.

**مسعود:** ويل شوې دي: چې فرانسوي سمبوليسم هغه خوځښت او حرکت وُ، چې د نورو هيوادونو ليکوال او شاعران يې هم اغېزمن کړل. که په دې اړه لنډه رڼا واچوئ.

**استاد ښکلی:** دا خبره ښځي سمه ده، د نولسمې پېړۍ  په وروستيو او شلمې پېړۍ په لومړيو کې انګليسي ته هم راغی او د ټي ايس ايليټ غوندې مشهور شاعر او تيوريسن ترې په خپلو آثارو کې استفاده وکړه.

**مسعود:** «ادګار الن پو» امريکايي شاعر، کره کتونکی،  او داستان ليکونی وو. د نوموړي په آثارو کې هماغه د فرانسوي سمبوليستانو مهمې ځانګړتياوې له ورايه ښکاري. د « ادګار الن پو » د ژوندو ژواک، ادبي - فرهنګي شخصيت او نامتو اثار په اړه ستاسو پېژندګلوی څه ده؟

**استاد ښکلی:** الن پو په (۱۸۰۹)ز کال کې په بوستن کې وزېږد او په (۱۹۴۹)ز کې مړ شو. د نوموړي د شعرونو لومړۍ ټولګه په (۱۸۲۷)ز کې د "ګوډ تيمور او نور شعرونه" په نامه خپره شوه. تر دې وروسته يې ګڼ شعرونه وويل؛ خو په کم عمرۍ کې مړ شو، چې له همدې امله يې ډېر شعرونه و نشو ويلای. ادګار الن پو رومانتسيزم او سېمبولېزم سره يوځای کړل. د خپلو احساساتو د لېږد لپاره يې نوې شعري ژبه جوړه کړه او له همدې امله يې ګڼ شاعران اغېزمن کړل.

**مسعود:** تاسو د سمبولیسم د بنسټیزو او مهمو اصولو او ځانګړتیاوو په رڼا کې د «ادګار الن پو» عقاید، اندونه او افکار د «مالارمه» او «ورلن» له اندونو ،افکارو، لید توګو او عقایدو سره څه ډول پرتله کوئ؟

**استاد ښکلی:** ادګار الن پو یو رومانتیست سېمبولیست شاعر دی؛ خو مالارمه او بودلیر بیا سوچه سېمبولیست شاعران دي، چې د احساساتو پر ځای کیفیتونو ته اهمیت ورکوي او په شاعرۍ کې څپاند احساسات نه، بلکې رواني کیفتونه جاري دي.

**مسعود:** ستاسو له لیده، ولې لیکوال په ادبیاتو کې په بېلابېلو هنري او ادبي ځېلونو (ژانرونو) کې سمبولونه کاروي؟ تاسو په هنري ادبیاتو کې، په تېره بیا شعر کې د سیمبول ارزښت، اهمیت، ځای او ایجاد څنګه ارزوئ؟

**استاد ښکلی:** په ادبیاتو کې د سیمبولونو د کارونو دوه دلیله کېدای شي، یو دا چې لیکوال او شاعر فکر کوي، چې یوازې سېمبولیک اصیل ادبیات دي او دویم دا چې د دوی په فکر ځینې لاشعوري غوښتنې دي، چې هغه په مستقیمه ژبه نه ویل کېږي، ځکه نو شاعران اړ دي، چې په سېمبولونو کې یې ووایي. د دوی په اند، په دې ډول شاعري د شاعر له روان سره سیده اړیکه پیدا کوي.

په شاعرۍ کې هم ورته خبره ده. په شاعرۍ کې دا ممکنه ده، چې موږ له سېمبولونو استفاده وکړو او لوستونکو ته د ګڼو تعبیرونو امکان برابر کړو.

**مسعود:** د سمبولیسم او سمبولیستانو اغېز د ختیځ پر ادبیاتو څه ډول ارزوئ؟

**استاد ښکلی:** په ختیځ کې له ډېر پخوا نه سېمبولیکه شاعري موجوده ده؛ خو په شلمه پېړۍ کې اسلامي او شرقي دنیا ته د غرب سېمبولیزم هم راغی او په ایران کې یې نیما یوشیج او ورپسې تر سهراب سپهري او شاملو پورې ګڼو شاعرانو وپاله،

همداسې په هند کې ثناء الله میراجي او ن م راشد سېمبولیکه شاعري وکړه او د حسن کوزه گر غوندې مشهور شعرونه یې وویل.

**مسعود:** په افغانستان کې په پښتو کلاسیکه مدونه او شفاهي شاعرۍ کې د سیمبولونو آگاهانه کارونه دود وه او پښتنو شاعرانو سیمبولونه ایجادول. خو تاسو په معاصره شاعرۍ کې د سمبولیسم د لویدیځ مکتب نښې څه ډول ارزوئ.

**استاد ښکلی:**د پښتو په شاعرۍ کې له پخوا نه د سېمبولونو کارونه دود وه؛ خو د معاصر سېمبولېزم اغېز موږ د استاد مجروح په ځانځاني ښامار، د غني په شاعرۍ، د هاشم بابر په شعرونو او نورو کې لیدلای شو. مثلا د شاه نواز باقر په شعرونو کې هم گڼ شمېر سېمبولونه وینو، چې غزلونو ته یې مخه کړې.

**مسعود:** په کلاسیکه شاعرۍ کې خوشال بابا، کاظم خان شیدا او حمید مو شگاف هغه شاعران دي چې کلاسیک سمبولستان یې بللی شو، تر دوی ور ها خوا رحمان بابا، دولت خان لواڼي او روښاني غورځنگ متصوف شاعران د گڼو سیمبولونو کاروونکي دي. مهرباني وکړئ د دغو شاعرانو په شعرونو کې د سمیبولیسم د مکتب اغېز او د سیمبولونو رنگارنگ او بېلابېلې بېلگې راته په گوته کړئ.

**استاد ښکلی:** زه فکر کوم لومړیو ته به هم سېمبولیستان ویل گران وي، ځکه چې هغوی شعوري ناشعوري له ځینو سېمبولونو استفاده کړې. د کمیت له پلوه یې د شاعرۍ لویه برخه سېمبولیکه نه ده؛ نو په معاصره مانا یې سېمبولیستان نشو بللای.

دویمه ډوله شاعران له رحمان بابا پرته، چې د سېبمولونو ځرک پکې نه ښکاري، دا نور د روښان د عرفاني مکتب پیرو شاعران دي، چې په شعرونو کې له شرقي عرفاني سېمبولیستۍ له ځانگړنو سره سمې ځانگړنې لیدل کېږي.

**مسعود:** په فولکلور او ولسي شاعرۍ کې لنډۍ تر ټولو غوره سیمبولیک فورم دی. که په دې اړه لنډه رڼا واچوئ او څو بېلګې یې راته ولیکئ.

**استاد ښکلی:** هو، په لنډیو کې دودیز سېمبولیزم وینو او دا هغه لنډۍ دي، چې له انساني روان سره اړیکه لري او هیلې، نهیلی او نور پکې رانښکاره کېږي. ځینې د "تر نیمې شپې پورې رانغلې/ اورونه مړه شول، اوس ایرو ته ناسته یم" لنډۍ کې هم لاشعوري جنسي غوښتنې وینې.

**مسعود:** په معاصرې پښتو شاعرۍ کې د سیمبولونو نوښت، هنري ښکلا، د مینې، ښایست او بدلون خبرې، مفاهیم او اصطلاحات، نوي انځورونه او سیمبولونه د استاد بینوا، استاد ګل پاچا الفت، استاد خادم، استاد پژواک، استاد مجاور احمد زیار، سلیمان لایق، بهاالدین مجروح، استاد حبیب الله رفیع او په پښتونخوا کې د غني خان او حمزه شینواري او همداسې نورو شاعرانو او ادیبانو په شعرونو او داستاني اثارو کې څه ډول ارزوئ. د دوی د سیمبولیکو اشعارو او اثارو د بېلګو په تړاو لنډه رڼا واچوئ.

**استاد ښکلی:** د دې هر شاعر او لیکوال په پنځونو کې سېمبولونه وینو او زه فکر کوم، چې د هر یوه په اړه یو کتاب لیکل کېدای شي.

**مسعود:** د سیمبولیستو شاعرانو په منځ کې د اروانښاد اسحق ننګیال، عبدالباري جهاني، درویش دراني، رحمت شاه سایل، عارف خزان، پیرمحمد کاروان او ګڼ شمېر نورو په سیمبولیکو شعرونو کې د نوښتونو او نویو سیمبولونو ایجاد او دودول د پام وړ دي. مهرباني وکړئ د دغو نوموړو د سیمبولیکو اشعارو او اثارو د بېلګو په تړاو لنډه رڼا واچوئ.

**استاد ښکلی:** دې ټولو ته سېمبولیست شاعران نشو ویلای؛ خو د ننګیال، درویش، خزان او کاروان په شاعرۍ کې نسبت نورو ته سېمبولونه ډېر دي. د درویش د "ناورین پسې ناورین" اثر او د کاروان د "چنار خبرې کوي" غوندې نظمونه یې ښې بېلګې دي. درویش د انسان لرغون بېلګې په ښه ډول وړاندې کړې دي، چې لاشعوري ځانګړنې هم پکې وینو.

**مسعود:** تاسو د نړۍ د نوموتو او پېژندل شویو سیمبولیسانو او د سیمبولیکو آثارو پېژندنه او ژباړه په پښتو ژبه او په پښتو ادبیاتو کې د نامتو او نوښتګرو سیمبولیستانو او د دوی د سیمبولیکو اثارو پېژندنه په نړېوالو ژبو په تېره بیا انګلیسي ژبه کې څه ډوال ارزوئ؟

**استاد ښکلی:** دا ژباړه ښه ده؛ خو په هغه صورت کې چې په پښتو کې مانا ولري، ځکه سېمبولونه فرهنګي بنسټ لري. ځینې سېمبولونه چې له زمان او مکان نه وایستل شي، مانا یې زیانمنه شي.

**مسعود:** تاسو د انځورونو، تشبیهاتو او استعارو اړیکې له سیمبولونو او په تېره بیا نوي سیمبولونو سره څه ډول ارزوئ؟ په دې برخه کې څو بېلګې راته په ګوته کړئ؟

**استاد ښکلی:** په تشبیه کې دواړه اړخونه یادېږي.په استعاره کې یو اړخ ذکر کېږي؛ خو په سېمبول کې د استعارې پر خلاف لفظي قرینه نه وي، چې لوستونکی یې په اسانه مدلول یا مانا ته ځان ورسوي، بلکې قرینه عقلي وي، چې له لوستونکي نه، خواري غواړي.

**مسعود:** ویل کیږي: « د فکر له پلوه سمبولیسم د هغې ایدیالیستي فلسفې تر اغېز لاندې وُ، چې له میتافزیک څخه یې ابهام اخیست او په (۱۸۸۰) کلونو کې

اوج ته رسیدلې وه، د شوپنهاور عجیبې بدبینۍ پر سیمبولیستو شاعرانو اغېز وکړ.»
تاسو د فلسفي عقایدو او افکار په رڼا کې په دې اړه څه لید لرئ؟

**استاد ښکلی:** د واقعي ژوند په اړه د سېمبولیستانو د بدبینۍ ریښه د همدغو فیلسوفانو په آثارو کې لیدل کېږي. دوی غوښتل چې د واقعي ژوند پر ځای خپله داخلي نهیلي په خپلو آثارو کې انځور کړي.

**مسعود:** «زیګموند فروید» د اروا پوهنې نامتو او پېژندل شوی پوه او «کارل ګوستاویونګ» فیلسوف او د اروا پوهنې ډاکټر په خپلو اثارو کې د اروا پوهنې په برخه کې له سمبولیسم څخه ډېره ګټه پورته کړې ده. تاسو د اروا پوهنې او فلسفي افکارو او عقایدو په رڼا کې د سمبولیسم او اروا پوهنې په برخه کې د دوی عقاید، اندونه او لید توګي څه ډول ارزوئ؟

**استاد ښکلی:** د فروید اروا پوهنيز مکتب پر سېمبولیزم اغېز درلوده، ځکه د لاشعور غوندې نومونې د همدې مکتب زېږنده وې او فروید د خوب او شاعرۍ د سېمبولونو پر اروايي اړخ ګڼې خبرې لري، چې سېمبولیستانو ترې استفاده کړې ده.

**مسعود:** د سمبولیستانو په آثارو کې د افسانوي، اساطیرو او تاریخي کرکټرونو او شخصیتونو، ملي او مذهبي اتلانو کارول خورا زیات دي. دوی دا شخصیتونه د خپلو خیالونو، تصوراتو د څرګندولو لپاره کارولي دي، لکه: زړورتیا، عدالت، کمال، هویت، اصلیت، لیوالتیا او داسې نور... تاسو د سمبولیستانو د دې کار اهمیت ارزښت او اغیز څه ډول ارزوئ؟

**استاد ښکلی:** په سېمبولونو کې هم فردي او هم ټولنیز لاشعور وړاندې کړی؛ نو افسانې، اسطورې او حماسې د ټولنیز لاشعور د لرغون بېلګو سرچینې دي، چې د سېمبولیستانو لپاره مهمې دي.

**مسعود:** ویل کېږي: چې د سمبولیزم ښوونځی پر اکسپرسیونیسم  او سوریالیسم ، چې دوه راتلونکي خوځښتونه ول ډېر اغیز پرېیښی دی. تاسو په دې تړاو څنګه اندئ؟

**استاد ښکلی:**  سور ریالیزم او اکسپرسیونیزم دواړه د سېمبولېزم د افراط له امله رامنځته شوه، چې سورریالېزم یې له اروایي اړخه اغېزمن شو او اکسپرسیونېزم یې له ژبني طرزه اغېزمن شو.

**مسعود:** تاسو د سمبولیسم د مکتب د زوال او د له منځه تللو لاملونه، انګیزې او اصلي عوامل څنګه ارزوئ؟

**استاد ښکلی:** سمبولیستانو د سمبول په توګه د کلمې د کارولو لپاره معیارونو ته چندان پام ونه کړ، بې له مشابهت و مناسبته یې هره کلمه هر شي ته د سمبول په توګه وکاروله، چې دې یې په کلام کې ابهام پیدا کړ.

سمبولیستان وایي چې سمبول تکرار شي، په نښه یا ساین واوړي او د مانا درک یې لکه اوبه اسانه شي. بیا ورته سمبول نه وایي. سمبول هغه دی چې مانا پکې پټه وي، هله رمز  هله سمبول دی.

د ادب موخه د مفهوم انتقال یا تبلیغ دی. سمبولیزم چې د تبلیغ وصراحت پرخلاف و، ډېر ونه پایید، ژر یې مرګ خوله په خاورو ورتپه کړه.

**په مینه او درنښت: انجنیر عبدالقادرمسعود**